لاس کې دی چې‌قسم په هغه ذات چې د محمد روح د هغه په لوښي يې د آسمان له ستورو او سيارو له شمېر څخه زيات دي

له ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: ما وويل: اې د الله رسوله! د حوض لوښي څه دي؟ ويې لاس کې دی چې لوښي يې د آسمان له ستورو اوفرمايل: « قسم په هغه ذات چې د محمد روح د هغه په سيارو له شمېر څخه زيات دي،هغه هم په توره شپه او صاف آسمان کې، د جنت له لوښو څخه چې چا وڅښل بيا پرې تنده نه راځي، پدې حوض کې د جنت دوه ناوې بهيږي، چا چې ترې څښاک وکړ؛ نه ترې کيږي، پلنوالی يې د اوږدوالي په اندازه دی، لکه د عمان او ايله تر منځه - واټن - اوبه يې له شهدو څخه زياتې سپينې او له شهدو څخه زياتې خوږې دي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله - صلى الله عليه وسلم - قسم کوي چې د قيامت په ورځ به د هغه د حوض جامونه د آسمان له ستورو او سيارو څخه زيات وي. او دا - منظره - په هغه توره شپه کې ښکاري چې سپورمۍ نه وي. ځکه د سپورمۍ په شپه کې ستوري روښانه نه وي ځکه چې د سپورمۍ په رڼا کې پټ وي او هغه شپه چې وريځ پکې نه وي، ځکه چې د وريځو شتون د ستورو د ليدلو مخه نيسي. او دا چې د جنت په لوښو کې له شته څښاکو څخه څوک وڅښي، هغه به هېڅکله تری نه شي او دا به وروستۍ تنده وي چې څښونکي ته رسيږي. او دا چې په نومورې حوض کې له جنت څخه دوه ناوې رابهيږي او پلنوالی يې د اوږدوالي په اندازه دی. او دا چې نومورې حوض په کونجونو کې سره مساوي دی؛ اوږدوالی يې له عمان څخه نيولې چې په بلقاء کې يو ښار دی تر أيله پورې چې هغه هم د شام په څنډو کې يو پېژندل شوی ښار دی، د دې دواړو تر منځ د واټن په اندازه دی. او د دې حوض اوبه له شهدو څخه زياتې سپينې او خوند يې له شهدو څخه زيات خوږ دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65032

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee